

## صيام الدين « پسرلی »

د نشر نیته : 12 جولای 2015 م

# د ناپاکې خولې پاکې خبرې هم نا پاکې دي

هیڅوک حق نه لري، چې نور د ولسمشر غني، رئیس د اجرائیه عبدالله یا هم د هغوي معاوینونو پسي بد ووایی، بد ولیکي او یا هم دوی په فساد تورن کړي، ځکه موږ پخپله چیرته پاک یو چې د پاکولو او د فساد د لمنځه وړلو خبرې کوو.

ایا همدا چارواکي موږ نه دې انتخاب کړي.؟ زه کله کله حیرانیږم چې دا ځیني ځیني د تلویزیون په پرده ښکاره شي او بیا د فساد ضد خبرې په داسې حال کې کوي چې دوی پخپله تر ویښتو پورې په فساد غرق دي.

بله دا چې دلته هر یو تر خپلې وسې پورې ظالم، او په فساد تورن دی، که راسره نه یې منئ نو زه لاندې څو مثلانونه چې په ډېره تیټه سویه دي، تاسو ته وړاندې کوم.

## اول: د دولت عادي مامورین:

فساد یوازې په دې معنی نه دی، چې د نامشروع لارې سرې پیسي پیدا کړي، بلکې فساد دا هم دی، چې څوک خپل مسوولیت په سمه توګه اجرا نه کړي، د دولت ډیری مامورین د سهاره تر ماز دیګره پورې په دفتر کې ناست وي خو په پای کې که ورسره محاسبه وشي ټکی کار به یې نه وي کړي او که څوک ورته د خپل کار په اړه ووایی نو سل رقمه انی او بانی درته جوړوي د یو امضا لپاره به دې د لاټو په شان ښکته او پورته زغلوي. خوکه یوه اندازه پیسی دې ورته مخته کیښود، نو د ورځو ورځو کار به دی په یوه لحظه کې ترسره کوي.

## دوهم: برقیان، تیل او ګاز پلورونکي:

برقیان، تیل او ګاز پلورونکي خو بیخي د خدای په قهر اخته دي، په دې مبارکه روژه کې سم چې د پیشنمي وخت شي برقیان د تیلو او ګازو پلورونکو د امر په اساس سم دلاسه برق قطعه کوي. تیل او ګاز پلورونکي برقیانو ته رشوت ورکوي، چې په اساسو وختونو کې برق قطعه کړي تر څو د دوی تیل او ګاز ډېر وپلورل شي. خانان خو ښه دي پیسي لري کش و پش لري د غریب سړي ګور وران دی.

**دریم: ډاکټران:**
دا ځيني ډاکتران خو دې خدای واخلي، دوی هم تر خپلي وسي پوری په اخلاقي او مالي فساد اخته دي. همدا ډاکټران دي، چې دواخانو سره ارتباط لري هم خپل فيس لوړ اخلي او هم ورته دوا ډېر ليکي. عجيبه خو داده چې د اصلي درمل پر ځای فرعي درملي ډېر ورکوي.
ما داسي هم اوريدلي دي، چې ځيني ډاکټران خپلو مريضانو ته داسې درملي هم ليکي تر څو مريضان په درمل اخته شي او بيا بيا ورته مراجعه وکړي.

**څلورم: قصابان:**
د ځينو قصابانو خو دې لاس او پښه دواړه مات مات شي، چې زموږ پر بيچاره او غريب ولس چې وروسته له ډېره وخته د غوښي خوړولو موقع ورته پيدا شوي، دوی پرې خرابي خوښي خرڅوي. خدای خبر چې دوی په غوښو کې څومره نخري کوي. يو يې هم په غوښو کې او به پمپول دي. د خوسکي پر ځای د غټ مال غوښه په فريب او دوکه پلورل دي. د قيمتونو د پوښتني لپاره خو هسې هم څوک نشته.

**پنځم : ډوډی پلوورنکي يا نانويان:**
ډوډی پلوورنکي هم دفساده خالي نه دي، دوی هم د ۲۰ ګرامو په نامه ۱۵ ګرامه ډوډی پر خلکو خرڅوي. مطلب دا چې د حقيقي وزن څخه ډېر کم وزنه ډوډی پر خلکو پلوري. د نظافت او پاکي تمه خو بيخي له دوی څخه نه کېږي.
**شپږم: دوکانداران:**
ځيني دوکانداران بيا په فريب کاري او دوکه بازي کي ماسټران دي. د جنس يا مال څخه حد نه ډېر ګټه کول ، د اکسپاير يا تاريخ تيرو اموالو خرڅول ، د اصلي جنس پر ځای بدل جنس پلورل دېته ورته نور ډول ډول فساد کول دوی ته بيخي ميراثي پاتي دي.
**اووم: پوليس، عسکر جمع ترافيک:**
زه فکر کوم، چې دوی بيخي په مشهو دو فاسدو کارونو بوخت دي، ډېر يې نه اوږدم بس په لنډول همدومره وايم، چې د خلکو څخه د غير قانوني کارونو په بدل کي رشوت اخيستل او کارته يې قانوني بڼه ورکول د دوی مسلک دی.
**اتمه: معلمين او استادان :**
ويل کيږي چي معلمين د متعلمينو راتلوونکي جوړوی خو په افغانستان کي بيا داسې ډېر کم وي، همدا معلمين او استادان دي، چې شخصيت وژني کوي، حق حقدار ته نه سپاري. عقدوي برخورد کوي، او د شاګردانو او محصلينو په منځ کي تعصب کوي.

ددې ليکنې هدف يوازې همدا دی، چې موږ پخپلو کې سره ښه پوهيږو چې څوک څومره په فساد غرق دی. د ملا څخه نيولي ان تر قاضي ، ژورنالست، ملک، سپينږيري او ځوانه پوری په شکل د اشکالو په فساد کي اخته يو، که مستقيماً فساد نه کوو، خو غيري مستقيم د فساد ښه ناظرين يو. فساد دا هم دی، چې که يو شخص بل شخص په فساد کولو وګوري منع يې نه کړي. دا چې زموږ خبري تاثير نه لري، ځای نه نيسي او حالت مو تغير نه کوي تول زموږ د بدو اعمالو نتيجه ده، نور د خدای لپاره راځئ د دې مبارکي مياشتي په خاطر فساد بند او عدم فساد لپاره کار پيل کړو، تر څو الله ( ج ) او رسول له موږ څخه خوشاله او راتلوونکي مو روښانه شي.
د خپل ولس پر حالت مې ژړا راځي
د مثبت بدلون په تمه
صيام الدين « پسرلی »

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org